ماریا ترزا والش ـ د مرسدس سوسا په آواز

ژباړه: فرهاد ویاړ


۰۱ جنوری ۲۰۱۳

## لکه سګريټ

په کراتو يې ووژلم
په کراتو يې ووېل هغه مړ شو،
خو بی له شکه چې زه لا دلته يم
او دا دي بيا راژوندی کيږم.
***
د بدمرغی مننددوی يم
او د هغه لاس چې په چاړې ډک و
ځکه چې دومره بد يې ووژلم
چې زه لا هم ترانه وايم.
***
له يوې کلنې مدفونتيا وروسته
لکه د يو ژغورلې په شان
چې د جګړې ميدان ته بيا راستنيږي
د لمر لپاره ترانه وايم
د سګريټ لپاره ترانه وايم
***
په کراتو يې حساب راته پاک کړی،
په کراتو ترې تم شوم،
خپلې جنازې ته لاړم،
يوازې او ژړغونی.
دستمال ته مې غوټه ورواچوله،

خو له یاده مې لاړ
چې یوازې همدا یوځل نه و
او بیا مې ترانه وویله.
***
له یوې کلنې مدفونتیا وروسته
لکه د یو ژغورلي په شان
چې د جګړې میدان ته بیا راستنیږي
د لمر لپاره ترانه وایم
د سګریټ لپاره ترانه وایم
***
په کراتو یې ووژلی
په کراتو بیا ژوندی شوی
خو بیا هم د رنځونو شپې او نهیلي مخې ته لری
خو د ډوبیدنې پر مهال
د شپې د تربرمې پر مهال
به بیا وژغورل شی
څو ترانه ووایی.
***
له یوې کلنې مدفونتیا وروسته
لکه د یو ژغورلي په شان
چې د جګړې میدان ته بیا راستنیږي
د لمر لپاره ترانه وایم
د سګریټ لپاره ترانه وایم.